# ثوک چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف ولولي نو د هغه لپاره د هغه په څېر لس چنده نیکي ده

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:
«ثوک چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف ولولي نو د هغه لپاره د هغه په څېر لس چنده نیکي ده، زه نه وایم چې (الم) یو حرف دی، بلکې (الف) حرف دی، (لام) حرف دی او (میم) حرف دی».
[حسن] [ترمذی روایت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې هر مسلمان چې د الله جل جلاله له کتاب څخه یو حرف لولي نو هغه ته پرې نیکي ده، او ثواب یې ورته تر لس چنده پورې زیاتیږي. بیا یې دا وینا په دې خبره روښانه کړه: چې (زه دا نه وایم چې الم (یو) حرف دی، بلکې الف حرف دی، لام حرف دی او میم حرف دی) نو درې توري کیږي او دیرش نیکۍ پرې دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6275